تأسیس: ۱۳۹۴ل ل

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

**جهاد او حج غوره اعمال دي**

له حضرت ابي هريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ، چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وسوه، چي کوم عمل تر ټولو غوره دئ؟ هغه وفرمایل: په الله جل جلاله او د هغه پر رسول ایمان. بیا وپوښتل سو، چي بل کوم عمل؟ هغه وفرمایل: د الله جل جلاله په لاره کې جهاد. دریم ځل وپوښتل سو، چي بیا کوم عمل؟ هغه وفرمایل: قبول سوی حج.

[رواه البخاري]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)

د ذوالقعدې ۱۲ -۱۴٤٦ل س | د غويي ۲۰ -۱٤۰٤ل ل | د مي ۱۰-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۴۰ ګڼه | ٤ مخیزه



## سرمقاله

### سیاست های گمرکی و تأثیر آن بر اقتصاد ملی

افغانستان به‌عنوان کشوری با موقعیت استراتژیک در مسیر تجاری آسیای مرکزی و جنوبی، همواره از ظرفیت بالایی برای تبدیل شدن به یک کانون تجاری برخوردار بوده است. سیاست‌های گمرکی مؤثر می‌توانند نقش تعیین‌کننده‌ای در رشد اقتصادی افغانستان ایفا کنند. برعکس سیاست‌های گمرکی ناکارآمد و فقدان یک نظام جامع تجاری، این پتانسیل را به چالشی بزرگ برای اقتصاد ملی تبدیل می کند. تسهیل تجارت، حمایت از تولید و صادارات، وضع تعرفه های پایین تر برای مواد اولیه و ماشین آلات صنعتی و تعرفه های بالاتر برای کالاهای مصرفی، وضع تعرفه های متغییر بر اساس فصل یعنی کاهش مؤقت تعرفه های کالاهای اساسی در فصل های خاص مثلاً گندم در زمستان، مبارزه ساختاری با قاچاق با سیستم رهگیری کالا، جریمه های تصاعدی و هماهنگی منطقه ای سیاست های مفید برای این امر مهم پنداشته می شوند. این سیاست‌ها باید به صورت تدریجی و با نظارت دقیق اجرا شوند. موفقیت آن‌ها مستلزم هماهنگی بین وزارت‌های مالیه، تجارت و صنعت است. تجربه کشورهایی مانند ترکیه و ویتنام نشان می دهد که اصلاحات گمرکی می‌تواند به‌عنوان موتور محرکه رشد اقتصادی عمل کند. امارت اسلامی افغانستان در راستای بهبود وضعیت اقتصادی و افزایش عواید ملی سیاست های مناسب را در پیش گرفته است که می توان از اصلاح تعرفه های گمرکی و ایجاد سهولت ها برای تجار، معافیت گمرکی برای مواد اولیه صنعتی، مبارزه با قاچاق، نظارت دقیق در گمرکات کشور، همکاری با کشور های همسایه برای کاهش قاچاق سازمان یافته و جریمه های سنگین برای قاچاقچیان، دیجیتل سازی و شفاف سازی گمرکات، حمایت از صادارت و تولیدات داخلی، کاهش بروکراسی و افزایش زمان کاری در گمرکات اشاره نمود. سیاست‌های گمرکی امارت اسلامی افغانستان عمدتاً بر کاهش قاچاق، افزایش درآمدهای امارتی و حمایت از تولید داخلی متمرکز است. در صورت تداوم این روند و اصلاحات بیشتر، می‌تواند به بهبود فضای کسب‌وکار و رشد اقتصادی بینجامد. با این حال، موفقیت این برنامه‌ها نیازمند ثبات سیاسی، جلب اعتماد تجار، و تقویت ظرفیت تخنیکی داخلی است.


**با احترام**
**اداره**

## د افغانستان او روسیې ترمنځ د ګډو اقتصادي همکاریو له پاره د معقولې طرحې پر جوړولو خبري وسوې

د افغانستان او فدراتیفي روسیې ترمنځ د ګډو اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د پراختیا له پاره د یوې معقولې طرحې د جوړولو په موخه تخنیکي- بین الوزارتي غونډه وسوه. د ماليې وزارت د همغږی، څارني او راپور ورکولو لوی ریاست په مشرۍ او د وزارتونو او سکتوري ادارو د استازو په ګډون، د افغانستان او فدراتیفي روسیې ترمنځ د دوه اړخیزو همکاریو، د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا او د یو شمېر نورو مهمو اقتصادي مسایلو په تړاو خبري او سلا مشورې وسوې. د ناستې په پای کې ګډه پرېکړه وسو، چې له روسیې سره د دوه اړخیزو اقتصادي همکاریو د بیلابیلو اړخونو او تګلارو د رابرسېره کولو په موخه معقوله او هر اړخیزه طرحه رامنځته سي.





## په جلال آباد کې د څه باندې (٦٥٥) میلیونه افغانیو په ارزښت د صلاح الدین ایوبي مارکېټ د جوړولو تړون لاسلیک سو



د جلال آباد ښار په دوهمه ناحیه کې د صلاح الدین ایوبي مارکېټ د جوړولو تړون د ماليې وزارت اداري معین مولوي دوست محمد مخلص او د فقیر محمد رحماني ساختماني شرکت د رئیس له خوا د چارو اداري د رئیس مرستیال په ګډون د یو لړ مراسمو په ترڅ کې لاسلیک سو. د صلاح الدین ایوبي سوداګریز او استوګنیز مارکېټ پروژې ټول مساحت، چې د خصوصي سکټور او عامه مشارکت پر بنسټ د آزادي داوطلبۍ له پاره وړاندي سوی وو، (۷۰۹۴،۱٦) متره مربع دئ، چې له دې جملې څخه (۳۳٦۰) متره مربع ئې د ودانیزو چارو له پاره په نظر کې نیول سوی دئ. د فقیر محمد رحماني ساختماني شرکت د (٦۵۵) میلیونه او (۳۴۲) زره افغانیو په پانګوني سره دغه مارکېټ جوړوي، یاد مارکېټ به (۱٦) پوړونه ولري، چې لومړي ځمکتلی د موټرونو تمځای او له دوهم ځمکتلي څخه تر پنځم پوړه پوري سوداګریز او له شپږم پوړه څخه تر لسم پوړه پوري یو برج او همدارنګه له شپږم څخه تر شپاړسم پوړه پوري استوګنیزو اپارتمانونو ته ځانګړی سوی دئ. د دې مارکېټ د ګټې اخیستو موده به (۱۲) کاله او د جوړولو موده به ئې (۳) کاله وي. د دې پروژې (۵۵) سلنه ونډه د افغانستان اسلامي امارت او (۴۵) سلنه د خصوصي سکټور ده، چې د ګټې اخیستو په موده کې به شاوخوا یو میلیارډ افغانۍ د افغانستان اسلامي امارت بودیجې ته د عاید په بڼه ور زیاتي سي. دا مارکېټ به د هیواد یو له لویو سوداګریزو او استوګنیزو مرکزونو څخه وي، چې په نوي او عصري ډول به جوړ سي او ګڼ شمېر هیوادوالو ته به کاري فرصتونه رامنځته کړي. د یادوني وړ ده، چې په (۱۴۰۳/۲/۲) نېټه یوولس شرکتونو خپلي طرحي او وړاندیزونه د داوطلبۍ د غونډې د افرګشایي کمېټې ته وړاندي کړي ول، چې د ماليې وزارت په خیبر تالار کې جوړه سوې وه. له څو پړاوونو دقیقو ارزونو او یوې شفافې پروسې وروسته، د فقیر محمد رحماني شرکت پلان د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت له لوري تائید او د داوطلبۍ ګټونکی اعلان سو.

## د ماليې وزارت د پالیسۍ معین د جاپان له سفیر سره وکتل



د ماليې وزارت د پالیسۍ معین انجنیر سلطان محمد زبیر د جاپان هیواد له سفیر ډاکټر تاکایوشي کورومیا او د افغانستان له پاره د اسیایي پراختیایي بانک (ADB) له مشر ډیویډ جې هېل سره د دغه وزارت د پالیسۍ په معینت کې وکتل. د دغې لیدني په لړ کې د ماليې وزارت د پالیسۍ معین د جاپان سفارت او د اسیایي پراختیایي بانک له ګټورو او اغېزمنو فعالیتونو څخه قدرداني او مننه وکړه او په اړوندو برخو کې ئې د لا همکارۍ ډاډ ورکړ. بل لوري ته د جاپان سفیر او د اسیایي پراختیایي بانک مشر په افغانستان کې د خپلو فعالیتونو د لا پراختیا د ژمني ترڅنګ د ماليې وزارت له هر اړخیزو همکاریو څخه هم مننه وکړه.

## د پکتیا ګمرک له پاره د لمریزي برېښنا سیستم د جوړولو پروژه پیل سوه

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست د (۸،۸) میلیونه افغانیو په ارزښت د پکتیا ګمرك له پاره د لمریزي برېښنا سیستم د جوړولو پروژه پیل کړه. په داسي حال کې، چې د برېښنا اوسنی لګښت له جنراتور څخه دئ او په منځني ډول د کال څه باندي (۲،٦) میلیونه افغانۍ د تېلو لګښت راځي، چې د دې سیستم په جوړېدو سره به د برېښنا لګښت را کم او په ذکر سویو افغانیو کې به سپما را منځته سي. د یادولو ده، چې د یادي پروژې لګښت د ماليې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي او چاري به ئې د یوه افغاني شرکت له لوري په راتلونکو دوو میاشتو کي بشپړي سي.



**تېره میاشت د هیواد له ګمرکونو څخه (۱۰۴) ټانکره بې کیفیته تېل مسترد سوي دي**

م ۲



**د چارو د لا همغږۍ او اغېزمنتیا په موخه د اداري معینیت د رهبرۍ ناسته وسوه**

م ۲





**د ګمرکونو او عوایدو معین هرات ولایت ته سفر وکړ**

م ۲




**د کورنۍ پلټني لوی ریاست د (۲۰۴) واحدونو او مراجعو پلټنه کړې ده**

م ۲




**فرصت بالقوه جغرافیای افغانستان برای اتصال تجارت منطقه ای میان شرق و غرب آسیا**

م ۳




**ایران د سیمه ییز ثبات د ودې په نیت له افغانستان سره د ستراتیژیکو سوداګریزو همکاریو لېوالتیا لري**

م ٤

شتمنۍ SHTAMANI
اوونیزه

# تېره میاشت د هیواد له گمرکونو څخه (۱۰۴) ټانکره بې کیفیته تېل مسترد سوي دي



د ماليې وزارت د نفتي موادو د کیفیت او څارني ریاست، چي د ټاکل سویو معیارونو له مخي هیواد ته د واردېدونکو نفتي موادو کیفیت معلوموي، د روان (۱۴۰۴ هـ.ل) کال د وري (حمل) په میاشت کي ئې د هیواد له یو شمېر گمرکونو څخه (۱۰۴) ټانکره واردېدونکي بې کیفیته تېل بیرته گرځولي دي. د مسترد سویو تېلو څخه (۷۳) ټانکره ډېزل د فراه ولایت د ابونصر فراهي گمرک څخه او (۲٦) ټانکره ډېزل او (۵) ټانکر پیټرول د نیمروز ولایت له گمرک څخه بیرته گرځول سوي دي.

د یادولو ده، چي د ماليې وزارت د نفتي موادو د کیفیت او څارني ریاست د ټاکل سویو معتبرو معیارونو له مخي، هیواد ته د لوړ کیفیت او معیاري نفتي موادو د را واردولو زمینه برابروي او د بې کیفته نفتي موادو له واردولو څخه په کلکه مخنیوی کوي.

## د چارو د لا 'همغږۍ او اغېزمنتیا' په موخه د اداري معینیت د رهبرۍ ناسته وسوه




د ماليې وزارت اداري معینیت د رهبرۍ ناسته د دغه وزارت د اداري معین مولوي دوست محمد مخلص په مشرۍ او مربوطه ادارو د رئیسانو په گډون د یاد معینیت د غونډو په تالار کي وسوه.

د ماليې وزارت اداري معین مسئولینو ته د صادقانه کړنو سپارښتنه وکړه او زیاته ئې کړه، چي د نوي مالي کال له پیل سره مراجعینو ته باید په اړوندو برخو کي لا ډېري اسانتیاوي رامنځته او له گډونوالو غوښتنه وسوه، چي د امربالمعروف او نهی عن المنکر د قانون د تنفیذ په تړاو د دعوت او ارشاد له ریاست سره اړینه همکاري وکړي.

همداراز اداري معین د یو شمېر (اداري او تدارکارتي) مسایلو په تړاو مسئولینو ته د جدي پاملرني، لا همغږۍ او اغېزمنتوب په تړاو هم سپارښتنه وکړه، چي وکولای سي د فعالیتونو د ښه والي سبب وگرځي.

## د گمرکونو او عوایدو معین هرات ولایت ته سفر وکړ




د ماليې وزارت د گمرکونو او عوایدو معین الحاج مفتي عبدالمتین سعید د خپلو ولایتي سفرونو په دوام، دا ځل هرات ولایت ته سفر وکړ او هلته ئې د یاد ولایت د گمرک او مستوفیت له مسئولینو او والي سره د کتني سربېره، د صنعتي پارک لیدنه هم وکړه.

ښاغلي سعید د یاد ولایت د ذکر سویو برخو مسئولینو ته په پوره صداقت او ایمانداری سره د اړوندو چارو د ترسره کولو، پر وخت سره د مراجعینو ستونزو ته د رسېدو او له هغوی سره د نېک چلند، په چارو کي د اړیني همغږۍ رامنځته کولو او یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو په تړاو لازمي سپارښتني وکړې.

ښاغلي سعید همداراز په اسلام کلا گمرک کي په (۵۰۰) جریبه ځمکه کي د تخلیې او بارگیرۍ ساحې د جوړولو په اړه د ماليې وزارت نظر او دریغ هم له مسئولینو سره شریک کړ.

نوموړي د ولایتي مسئولینو ستونزي هم واورېدې او له اصولو سره سم ئې د حل ډاډ ورکړ.

د یادولو ده، چي د گمرکونو او عوایدو معین بېلابېلو ولایتونو ته سفرونه کوي؛ ترڅو د یاد معینیت د اړوندو ادارو له چارو څخه د لیدني تر څنگ د هیوادوالو ستونزي هم له نږدې واوري او پر ټاکلي وخت رسېدنه ور ته وکړي.

## د کورنۍ پلټني لوی ریاست د (۲۰۴) واحدونو او مراجعو پلټنه کړې ده

د ماليې وزارت د کورنۍ پلټني لوی ریاست، د کورنۍ پلټني له ملي او نړیوالو معیارونو او اصولو سره سم د دغه وزارت اړوندو واحدونو د مالي او اداري چارو د پلټني مسئولیت په غاړه لري.

دغه ریاست توانېدلی، چي د تېر (۱۴۰۳ هـ.ل) کال په اوږدو کي د منظور سوي کلني پلان پر بنسټ؛ د گمرکونو، مستوفیتونو، مالیاتي حوزو، د ولسوالیو د عوایدو مدیریتونو، مرکزي ریاستونو، معلوماتي سیستمونو، امارتي املاکو او پراختیايي پروژو په گډون، په ټولیز ډول د (۲۰۴) واحدونو او مراجعو پلټنه ترسره او د اصلاح په موخه ئې د پلټني ادارو ته اړیني سپارښتني او مشورې ورکړې.

سربېره پر دې، د کورنۍ پلټني لوی ریاست له اصولو سره سم د غیر پلاني پلټني (ځانگړو موضوعاتو او شکایتونو) د څېړلو مسئولیت هم لري، چي په یاده برخه کي د (٦۵) ځانگړو موضوعاتو څېړنه ترسره او د مراجعینو شکایتونو ته پر وخت رسېدنه سوې ده.

همدارنگه یاد ریاست د (۲۰) بودیجوي واحدونو د کورنیو پلټونکو د مسلکي ظرفیت لوړوني په موخه ځانگړي روزنیز پروگرامونه دایر کړي دي، چي په یاده برخه کي ئې گټوري پایلي لرلي دي.

د یادولو ده، چي د کورنۍ پلټني لوی ریاست تل هڅه کوي، چي د چارو له اغېزمنتیا او د بیت المال له ساتني څخه ډاډ ترلاسه کړي او د ماليې وزارت په اړوندو واحدونو کي د بشپړې روڼتیا رامنځته کولو او د کم کارۍ په وړاندي جدي مبارزه وکړي.





## برنامه آموزشی برای کارمندان جدید التقرر ریاست های مرکزی وزارت ماليه دایر گردید

ریاست امور کارکنان وزارت ماليه برنامه آموزشی را تحت عنوان "اساسات مدیریت" برای کارمندان جدید التقرر ریاست های مرکزی وزارت ماليه دایر نمود.

در نشستی که به همین مناسبت در خیبرهال این وزارت راه اندازی گردیده بود، مولوی دوست محمد مخلص، معین اداری، محمد نادر همایون، آمر آموزش و ارتقای ظرفیت و مولوی محمد مبین امینی، نماینده ریاست دعوت و ارشاد اشتراک داشتند.

آمر آموزش و ارتقای ظرفیت در سخنان افتتاحیه این برنامه گفت، آمریت آموزش و ارتقای ظرفیت برنامه های مختلف را برای ارتقای ظرفیت کارمندان جدید التقرر به راه انداخته که برنامه هذا از جمله آن است.



این برنامه ها ضمن انکشاف مهارت های مسلکی، اصول اداره را نیز به شما آموزش میدهد، پس از آن استفاده اعظمی نموده نواقصات خویش را رفع کنید.

معین اداری طی سخنانش گفت، سر و کار شما با مردم است و بخاطر اینکه به مشکلات مردم در اداره خود رسیدگی کنید مهارت های مسلکی خود را انکشاف دهید. برای ارتقای مهارت های مسلکی شما این برنامه راه اندازی گردیده شما از آن استفاده کرده و آنچه می آموزید به دیگران نیز انتقال دهید.

نماینده ریاست دعوت و ارشاد طی سخنانش گفت، وظیفه و مسئولیت های خود را بشناسید و از غفلت وظیفوی و بدرفتاری با مراجعین پرهیز کنید.

گفتنی است که این برنامه به مدت (۱۵) روز ادامه داشته و در آن پلان گذاری، سازماندهی، رهبری، کنترل، تصمیم گیری و طرز سلوك با کارمندان و مراجعین به اشتراك کنندگان تشریح خواهد شد.

## تېره اوونۍ د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي



د ماليې وزارت د گمرکونو لوی ریاست د گرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د نیمروز، کندهار، فراه، هرات او هلمند ولایتونو په بېلابېلو سیمو کي په زیاته اندازه قاچاقي توکي نیولي دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي.

په نیول سویو توکو کي (۲۲۵٦۰) کیلو گرامه انساني او زراعتي درمل، (۵۲٦۵)کیلوگرامه مالگه، (۱۹۲۰) کیلو گرامه چاکلېټ، (۱۱۱۰) کیلو گرامه رُب، (۲۰۵٦) کیلو گرامه پنیر، (۹۰۰) کیلو گرامه د لیمو اوبه، (۲۲۰) کیلو گرامه وچې شیدې او (٦۱٦) کیلو گرامه مکروني شامل دي.

نیول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي.

د یادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت د گرځنده څارني کارکوونکي په ټول هیواد کي گرځنده څارني کوي او هیچا ته اجازه نه ورکوي، چي ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.

## برنامه آموزشی برای کارمندان گمرک کابل آغاز گردید




طبق پلان تدریسی سال (۱۴۰۴هـ.ش) اکادمی ملی عواید و گمرکات وزارت ماليه، این بار برنامه آموزشی را برای (۴۰) تن از کارمندان گمرك کابل در مورد مسایل گمرکی به منظور انکشاف ظرفیت کاری، قوانین گمرکی، طرزالعمل گمرکی، قیمت گذاری گمرکی، تعرفه و موارد دیگر آموزش عملی و نظری آغاز نمود.

این برنامه آموزشی قرار است برای سه هفته ادامه یابد که با آن نیازهای مسلکی و مدیریتی کارمندان گمرك متذکره افزایش یافته و مشکلات موجود آنان حل خواهد شد.

## د مرکزي زون د مالیاتي حوزو (۳۰) تنو کارکوونکو ته روزنیز پروگرام پیل سو

د ماليې وزارت د عوایدو او گمرکونو ملي اکاډمۍ له کلني تدریسي پلان سره سم د کابل مرکزي زون د مالیاتي حوزو (۳۰) تنو کارکوونکو ته د مالیاتي قوانینو او سیکټاس سیستم په تړاو روزنیز پروگرام پیل سو.

دغه پروگرام به (۱۷) ورځي دوام ولري، چي د روان کال غویي میاشتي له (۱۳) مې نېټې پیل او د همدغې میاشتي پر (۳۰) مه نېټه به پای ته ورسېږي، چي په لړ کي به ئې گډونوالو ته د سیکټاس سیستم په اړه بشپړ معلومات ورکړل سي.

د یادوني ده،چي له دې سره به د اړوندو برخو کارکوونکو وړتیاوي لوړي او په چارو کي به ئې لا غوره والی راسي.

# فرصت بالقوه جغرافیای افغانستان برای اتصال تجارت منطقه ای میان شرق و غرب آسیا

عبدالبصیر عمرشاه خیل
محقق دکتورای اقتصاد و تجارت بین الملل


SHTAMANI
اوونیزه

**مقدمه**

افغانستان، بـه حیث کشـوری در دل قاره آسـیا، جایگاه ویـژه ای در اتصـال کشـور هـای شرق (چیـن و آسـیای جنـوب شرقـی) بـه غـرب (ایـران، خاورمیانـه و اروپـا) دارد. ایـن موقعیـت مـی توانـد کشـور را بـه یـک مرکـز ترانزیتـی و تجارتـی مهـم در منطقـه تبدیـل نمایـد؛ مـشروط بـر آن کـه زیرسـاخت‌ها، سیاسـت‌های اقتصـادی و امنیتـی متناسـب توسـعه یابنـد. افغانسـتان بـا موقعیـت جغرافیایـی اسـتراتژیک خـود، می‌توانـد بـه یـک نقطـه کلیـدی در اتصـال تجارتـی میـان شرق و غـرب آسیا مبـدل شـود. ایـن نوشـته معلومـات کوتاهی در بـاره نقـش جیوپولیتیـک افغانسـتان در تقویـت روابـط تجارتـی، توسـعه مسـیرهای ترانزیتـی و تاثیـر هـای آن بـر رشـد اقتصـادی منطقـه ای ارائـه میکنـد.

**اهمیت جیوپولیتیک افغانستان:**

• قرار داشتن در چهارراهی تجارتی قاره آسیا.
• همسایگی با شش کشور مهم منطقه (ایران، پاکستان، چین، تاجکستان، ازبکستان و ترکمنستان).
• نزدیکی به دهلیز های اقتصادی بین‌المللی مانند: راه لاجورد، بندر چابهار و راه ابریشم نوین.




**فرصت‌های اتصال تجارتی**

• انتقالات کالا از چین به ایران و بالعکس آن.
• تجارت انرژی و مواد خام میان آسیای مرکزی و آسیای جنوبی.
o توسـعه راه‌آهـن و جـاده هـای منطقـه ای مانـنـد: خط‌آهـن مـزار- هـرات- چابهـار و پـروژه خـط آهـن پنـج جانبـه (چیـن- قرغیزسـتان- تاجیکسـتان- افغانسـتان-ایران).

**مزایای اقتصادی بالقوه**

• افزایش درآمدهای گمرکی و ترانزیتی از طریق عبور کالاها از خاک افغانستان.
• توسعه زیرساخت های حمل و نقل (جاده، راه‌آهن و بنادر خشکه).
• جذب سرمایه‌گذاری خارجی در بخش تجارت، لوژستیک و ترانزیت.
• کار یابی و اشتغال زایی در بخش حمل ونقل و خدمات تجارتی.

**راهکارهای پیشنهادی**

۱. تقویـت همـکاری هـای منطقـه ای و عقـد توافقـات چندجانبـه تجارتی و ترانزیتی میان کشـور های ذیدخل.
۲. سرمایـه گـذاری در پروژه‌هـای زیربنایی حمل و نقل.
۳. بهبـود سیسـتم گمرکـی و تسـهیل تجـارت خارجـی.
٤. افزایش ظرفیت های لوژستیکی و مراکز توزیع منطقه ای.

**نتیجه‌گیری**

موقعیـت جغرافیایـی افغانسـتان، در صورتیکـه بـا امنیـت، ثبـات، زیرسـاخت هـای مـدرن و سیاسـت هـای تجارتـی کارآمـد همـراه شـود، مـی توانـد ایـن کشـور را بـه نقطـه اتصـال اسـتراتژیک میـان شرق و غـرب آسـیا بـدل سـازد. ایـن نقـش مـی توانـد نـه تنهـا رشـد اقتصـادی افغانسـتان را تضمیـن کنـد، بلکـه بـه توسـعه پایـدار منطقـه ای نیـز کمـک نمایـد.

## د ساتني او ځانګړو عملیاتو تنفیذي قطعې اداري ناسته وسوه

د ماليې وزارت د ساتني او ځانګړو عملياتو تنفيذي قطعې اداري ناسته د دغـه قطعـې د قومنـدان حافـظ مولـوي محمـد نـور "عبيـد" پـه مـشرۍ او د يـادي قطعـې اداري او مسـلكي مرسـتيال مولـوي نعيـم اللـه مصبـاح، د پـلان او اوپراسـيون مديـر مولـوي ريـاض اللـه "عبيـد"، د مخابـرې او معلومـاتي ټكنالـوژۍ مديـر مولـوي حاجـي محمـد صميـم او يـو شـمېر نـورو مسـئولينو پـه ګـډون وسـوه.

حافـظ مولـوي محمـد نـور عبيـد مسـئولينو تـه وويـل، چـې پـه رسـمي وخـت كـې پـر خپلـو دنـدو حـاضر اوسـئ دنـدو تـه د اسـاسي او رسـمي چـارو پـه سـترګه وګـورئ، ځانونـه مـو د رسـمي چـارو پـر وخـت كـې پـه غيـري رسـمي او نـورو چـارو مـه بوختـوئ. نومـوړي زياتـه كـړه، چـې مـوږ او تـاسي تـه قوميـت، ملـت او سـمت مطـرح نـه دی؛ بلكـې مـوږ يـو واحـد امـت يـو او د يـو آمـر اطاعـت كـوو.

د ناسـتي پـه لـړ كـې د قطعـې د رهـبرۍ لخـوا د قطعـې د تعقيـب او نظـارت كميټـې تـه دنـده وسـپارل سـوه، چـې د قطعـې د رهـبرۍ د پرېكـړو پـه تطبيـق كـې پاملرنـه زياتـه كـړي او پـه دقـت سره ئـې وڅـاري. پـه پـای كـې هـر مسـئول مديـر خپـل كاري اجـراآت او سـته سـتونزي بيـان كـړې، چـې سـتونزو تـه ئـې د حل ډاډ وركول سـو.

# اعلانات داوطلبی

### د داوطلبی خبرتیا

د ماليې وزارت د امـارتي املاكـو لـوی رياسـت غـواړي چـې د كابـل ښـار پـه اولـه ناحيـه كـې يـو بـاب امـارتي ملكيـت د طـارق بن زياد سـوداګريز ماركېټ چې په (۲۱) نمبر آپارتمـان مشـهور دی او مسـاحت يـې (۲۱۴،۴۱۴) مترمربع دی د پانګـوني پـه موخـه داوطلبی ته و سـپاري. د يـاد ملكيـت د جي.پـي. ايـس كوردينـات ( طـول البلـد- ۶۹،۱۷۶۴۷۵) او ( عـرض البلـد- ۳۴،۵۱۳۶۵۱) دی، چـې لـه يـوې تهكـوۍ( ځمكتـل) سره پـه (۸) پوړونـو كـې جوړېـږي. ټـول هغـه حقيقـي او حكمـي اشـخاص، چـې غـواړي پـه يـاد امـارتي ملكيـت پانګونـه وكـړي كـولای سي، چـې خپـل غوښـتنليكونه د ( ۱۴۰۴/ ثـور/۱۰ نېټـې څخـه تـر ۱۴۰۴/جـوزا /۰۹) نېټـې پـوري د دېرشـو (۳۰) ورځـو پـه مـوده كـې د ماليـې وزارت د امـارتي املاكـو لـوی رياسـت تـه وسـپاري او شرطپاڼـه د (۵۰۰۰) پنځـه زره افغانيـو پـه بـدل كـې تـر لاسـه كـړي، آفرخلاصونـه د ماليـې وزارت خيـبر د غونـډو پـه تـالار كـې د اعـلان د ختمېـدو تـر نېټـې يـوه ورځ وروسـته پـه (۱۴۰۴/جـوزا/۱۰) نېټـه تـرسره كيـږي.

د اعلان د خپرېدو نېټه: د ۱۴۰۴/ثور/ ۱۰
د اعلان د ختمېدو نېټه د ۱۴۰۴/ جوزا/ ۰۹
د اړيكي شميره: ۹۳۷۹۶۷۵۷۴۸۶+
د واټسپ شميره: ۹۳۷۹۶۷۵۷۴۸۶+
د شرطپاڼي د ترلاسه كېدو پته: د امارتي املاكو لوی رياست سينماپامير (۱۴) پوړيزه ودانی، څلورم پوړ، د پلان او پانګوني آمريت.

### د داوطلبی خبرتیا

د ماليـې وزارت د امـارتي املاكـو لـوی رياسـت غـواړي، چـې د كابـل ښـار لومـړۍ او پنځمـې ناحيـې اړونـد لانـدي (۶) امـارتي ملكيتونـه پـه جـلا جـلا ډول د داوطلبـۍ لـه لاري اعـلان تـه وړانـدي كـړي او د (۲) كلونـو لـه پـاره ئـې پـه كرايـه وركـړي.

۱. د كابـل ښـار لومـړۍ ناحيـې اړونـد ظاهـر شـاهي ماركېـټ يـو بـاب (۱۱۸) نمـبر دوكان چـي (۵،۷) مـتره مربـع مسـاحت لـري او مياشـتنۍ ابتدايـي كرايـه ئـې (۷۶۱۵۰) افغانـۍ ده. كوردينـات ( جـی. پـی. اس نمـبر) ۳٤,۵۱۷۱ -٦۹۱۷۷۵٦

۲. د سـينما پامـير (۱۴) پوړيـزې ودانـۍ ختيـځ لـور تـه د ميونـد شـفاخانې سره متصـل دوه بابـه مخروبـه خونـې چـي (۴۴،۸۲) مـتره مربـع مسـاحت لـري او مياشـتنۍ ابتدايـي كرايـه ئـې (۷۵۰۰) افغانـۍ ده. كوردينـات ( جـی. پـی. اس نمـبر): ٦۹,۱۷۲۱۹-۳٤,۵۱۳٤۲

۳. په كوټه سنګي كې د نظيف ماركېټ د (۳۲) بابه دوكانونه چې د A۵٦ – A۸۸ نمبر پوري دي او ټولټال مساحت ئې (۵۰۴) متره مربع دی او مياشتنۍ ابتدايي كرايه ئې (۱۲۸۰۰۰) افغانۍ ده.

٤. د نظيـف ماركېـټ دوهـم منـزل يـو بـاب D- ۷ نمـبر دوكان چـي (۱٦.۹٦) مـتره مربـع مسـاحت لـري او مياشـتنۍ ابتدايـي كرايـه ئـې (۳۰۰۰) افغانـۍ ده.

۵. د نظيـف ماركېـټ دوهـم منـزل يـو بـاب D- ۸ نمـبر دوكان چـي (۱٦.۹٦) مـتره مربـع مسـاحت لـري او مياشـتنۍ ابتدايـي كرايـه ئـې (۳۰۰۰) افغانـۍ ده.

٦. د نظيـف ماركېـټ يـو بـاب A۳۹-٤۰ نمـبر دوكان چـي (۳٦) مـتره مربـع مسـاحت لـري او مياشـتنۍ ابتدايـي كرايـه ئـې (۸۰۰۰) افغانـۍ ده. كوردينـات ( جـی. پـی. اس نمـبر): ٦۹,۱۱۷٤٦-۳٤,۵۱۵۲۷۲

هغـه حقيقـي او حكمـي اشـخاص چـي غـواړي پورتـه ذكـر سـوي ملكيتونـه پـه كرايـه ونيـسي، كـولای سي چـي خپـل غوښـتنليكونه د ( ۱۴۰۴/ ۰۲/ ۱۵ نېټـې څخـه د ۱۴۰۴/ ۲۱/۰۲) مـي نېټـې پـوري د سـينما پامـير (۱۴) پوړيـزې ودانـۍ (۴) پـوړ د امـارتي املاكـو لـوی رياسـت تـه وسـپاري او شرطپاڼـه دې تـر لاسـه كـړي.

آدرس: د سينما پامير (۱۴) پوړيزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مركزي تړونونو د ارزوني لوی مديريت.
د داوطلبۍ ټاكلې نېټه: د ( ۱۴۰۴/ ثور/۲۲) نېټه، د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د اړيكي شميرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

### اعلان داوطلبی

رياسـت عمومـی امـلاك امـارتي وزارت ماليـه دوبـاب وتريـن واقـع نظيـف ماركيـت كوتـه سـنگی مربـوط ناحيـه پنجـم شـهر كابـل را بـه شـكل آفـر سربسـته طـور جداگانـه بـه اعـلان داوطلبـی مـی پسـارد، مـدت(۱) سـال.

۱. يكبـاب وتريـن نمـبرD۱۳ بمسـاحت ٤ مترمربـع واقـع نظيـف ماركيـت كوتـه سـنگی بـه كرايـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ(۲۵۰۰) افغانـی.

۲.يكبـاب وتريـن نمـبر D۱٤بمسـاحت۳,۰٤مترمربع واقـع نظيـف ماركيـت كوتـه سـنگی همجـوار حـمام بـه كرايـه ابتدائـی ماهانـه مبلـغ(۲۰۰۰) افغانـی.

كوردينات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۱۷٤٦ ۳٤,۵۱۵۲۷۲

اشخاص حقيقی و حكمی كه خواهان به كرايه گرفتن جايداد های فوق الذكر باشند ميتوانند در خواست های شان را از تاريخ (۱۴۰۴/۰۲/۴ الی ۱۴۰۴/۰۲/۲۴) به مدت (۲۱) روز به رياست عمومی املاك امارتي تسليم نموده شرطنامه را اخذ نمايند.

آدرس:سينما پامير تعمير۱٤ منزله، منزل۵،
مديريت عمومی ارزيابی قرار داد های مركز
شماره تماس:(۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤)،
تاريخ مجلس داوطلبی: ۲۵/ثور/ ۱۴۰۴ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار ميگردد.

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسئول مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



# MoF Hosts Japanese Ambassador, Country Director of ADB as Deputy Minister of Policy Vows to Strengthen Further Cooperation




Deputy Minister of Policy of MoF, Eng. Sultan Mohammad Zubair met with H.E. Dr. Takayoshi Kuromiya, Japanese Ambassador to Afghanistan and the country Director of the Asian Development Bank (ADB) for Afghanistan, Mr. David J. Hale at the DM for Policy. During the meeting, Mr. Zubair stated his appreciation and gratitude for the fruitful and effective activities of the Embassy of Japan and the ADB, and assured further cooperation in relevant fields. On the other hand, H.E. Dr. Takayoshi Kuromiya, and Mr. David J. Hale expressed their commitment to further expand their activities in Afghanistan and also thanked the Ministry of Finance for its comprehensive cooperation.


# Technical-interministerial Committee led by MoF Discusses Developing Reasonable Plan for Joint Economic Cooperation Between Afghanistan, Russia




A technical-interministerial meeting was held to develop a reasonable plan for the development of joint economic and trade cooperation between Afghanistan and the Russian Federation. Under the chairmanship of the 'General Directorate of Coordination, Monitoring and Reporting' of the MoF and with the participation of representatives of ministries and sectorial bodies, discussions and consultations were held on bilateral cooperation between Afghanistan and the Russian Federation. Accordingly, the development of economic and trade relations, and a number of other important key-economic issues were also put on the table. At the end of the meeting, a joint decision was made to develop a reasonable and comprehensive plan to explore various aspects and strategies of bilateral economic cooperation with Russia.




# ایران د سیمه ییز ثبات د ودې په نیت له افغانستان سره د ستراتیژیکو سوداګریزو همکاریو لېوالتیا لري




تهران ټایمز – TEHRAN TIMES راپور ور کوي، چې د ایران د سوداګرۍ، صنایعو، کانونو او کرنې خونې مرستیال پیام باقري اظهار وکړ، چې وایي د ایران او افغانستان ترمنځ د اقتصادي همکاریو پیاوړتیا به په سیمه ییز ثبات کې مرستندویه تمامه سي. د باقري اند راپور په دې انداز رانقل کړی دئ: "د ایران پرمختللې صنعتي زېربنا او نړیوالو بازارونو ته لاسرسی د افغانستان د کاني زېرمو، ښېرازه مځکې او کاري ځواک سره یوځای کېدل د دواړو هیوادونو اقتصادي ملګرتیا ټینګوي." هغه د ایران او افغانستان د سوداګرۍ له پاره لیدلوری «مثبت او هیله بخښونکی» ګڼي او وایي، چې په (۲۰۲٤)ز کې د دواړو ګاونډیو سوداګري ډېره سوې ده. په راپور کې د هغه په حواله سره د ایران خصوصي سیکټور چمتو ښوول سوی دئ، چې ګویا د افغانستان د زېربناوو، کانونو، کرنې، انرژۍ او مهندسۍ په پروژو کې ګډون وکړي. ورپسې د (اپریل/ ۳۰/ ۲۰۲۵)ز کې د اسلامي امارت له مشرانو سره د ایران د کرنې وزیر غلام رضا نوري خبري هم رانقلوي، چې وایي ایران افغانستان ته په کرنیز سیکټور کې د تخنیکي خدمتونو د لېږد له بابته چمتو دئ. ایرانی وزیر ټینګار کوي، چې وایي د همکارۍ تړونونه باید د ګډې کمېټې په چوکاټ کې مسوده او لاسلیك سي. ورپسې په مرمرینه ماڼۍ کې غونډې ته هم اشاره کوي، چې وایي غونډه د دوه اړخیزي سوداګرۍ پراخولو، ترانزیټي ننګونو حل، د سوداګریزو پروسو اسانه کولو او د افغانستان د کرنې سیکټور عصري کولو کې پر ګډې همکارۍ متمرکزه وه. تهران ټایمز دا خبره هم ور علاوه کوي، چې په (۲۰۲٤)ز کې د افغانستان او ایران د دوه اړخیزي سوداګرۍ حجم د (۲۰۲۳)ز په پرتله ٪(۸٤) زیات سوی دئ، چې ټولټال (۳,۱۹۷) میلیارده ډالرو ته رسېدلی دئ. ورپسې زیاتوي، چې ایران ته د افغانستان صادرات ٪(۱۱٦) ډېر سوي دي، چې د نغدو له قراره په ټولیز ډول (۵٤) میلیونه ډالره کېږي.

## د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواك آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.
ټلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰ / ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( ۹۳+ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af



## د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

## ریاست عمومی ګمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد ګمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱

شتمني اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.